د افغانستان اسلامي جمهوريت
دعامي روغتيا وزارت
عامه اړيکو دفتر

مطبوعاتي اعلاميه

د لوی اختر په ورځو کي اړتيا ده چې پاملرونکي او وقايوی اقدامات د يوه وژونکي ويروسی ناروغی د اخته کيدو د خطر د کمولو په خاطر ونيول شي

کابل، د ۱۳۹۵ کال د وږي ۱۷ مه: په افغانستان کي د روغتيا او مالداری چارواکي د وينې بهوونکي تبې ناروغی- کانګو د خپريدو په باب چې د ځاروي د کنې له لارې ليږدول کيږي، اندېښنه لري. د عامې روغتيا وزارت، د کرنې او مالداری وزارت، د روغتيا نړيواله اداره، د خوراک او کرنې سازمان د خلکو څخه غواړي چې له دې ناروغی څخه د خپل ځان د ساتنې په خاطر ځانګړي اقدامات ترلاس لاندې ونيسي.

دغه ناروغی د کنې له لارې، د ځاروي د ذبحې پر مهال او يا وروسته د ذبحې، د مکروبی وينو او د ځارويو د وړيو په تماس سره ليږدول کيږي. د لوی اختر په ورځو کي ګن شمير خلک ځاروي قربانی کوي او داسې ويره شته چې ددې ويروس انتقال کچه لوړه شي.

ددغه ويروس ځای او کوربه ګن شمير اهلی او وحشی ځاروي لکه ميږي، وزې او غوايي دي. له انسان څخه انسان ته د اخته شخص د وينې، مايعاتو، او بدن سره د تماس له لارې ليږدول کيږي.

د افغانستان د عامې روغتيا وزير ډاکټر فيروز الدين فيروز وويل: کانګو يوه جدی روغتيايی موضوع ده چې دا مهال د مړينې ګڼه يې په افغانستان کي شاوخوا ۱۲ سلنه ده. د روان کال له پيل څخه تر دې دمه د ۶۶ پيښو پخلی شوی او ۱۲ تنو له دې ناروغی له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی او په اختر کي ددې ناروغی د خپريدو د خطر احتمال زيات دی. مونږ د هر وکړي څخه غواړو چې د اختر په مهال کله چې خپل ځاروي ذبح کوي، ددې ويروسی له درکه دې خپل ځان او کورنۍ خوندي وساتي او لازم تدابير او اقدامات پدې اړه تر لاس لاندې ونيسي

دکرنې، اوبو لګونې او مالداري وزير ښاغلی اسدالله ضمير وويل: دا ډيره اړينه ده کله چې خلک په ځاروي او يا دهغوی پر وړيو لاس وهی، له دستکشو او نور مخنيوي کوونکي جامو څخه استفاده وکړي. د کنې د مخنيوي په خاطر، خلک بايد د روښانه رنګ لرونکي وقايوي جامې واغوندي چې په آسانه توګه کنه تشخيص کړلای شی. کانګو يوه جدي وژونکي ناروغی ده خو د مناسب احتياطي تدابيرو په نيولو سره کولای شو چې دهغې خطر را ټيټ کړو.

ددې ناروغی له ډير خطر سره د ځارويو د روغتيا ډاکټران، قصابان، هغه کسان چې په کرنه او مالداری کې کارکوي، هغه کسان چې له غوښو سره سر او کار لري، روغتيايي کارکوونکي او د کانګو د ناروغانو د کورنۍ غړي او ځارونکي دي. تر دې مهاله پدې برخه کې هيڅ ډول واکسين انسانانو ته او نه هم ځارويو ته ندی چمتو شوی.

د کانګو د ناروغی نښې او نښانې؛ شديده تبه، سردردي، دعضلاتو درد، دغاړې شخ پاتې کيدل، د سترګو سوروالی او د رنا څخه ويره چې زړه بدوالی، کانګې، ګيډې دردونه او نس ناستی هم کيدای شی ورسره وي، دي. که چيرې دا ډول نښې نښانې د يوه شخص په وجود کې ليدل کيږي، ژر ترژره دي يو نږدې روغتيايي مرکز ته دې مراجعه وکړي.

دروغتيا د نړيوالې اداري استازي ډاکټر پيپر کورن وويل: د روغتيا نړيواله اداره ، ددې ناروغی د ځارنې او پيښو موندې او همدا راز د لابراتوارونو د ظرفيت د لوړتيا په برخه کې د عامې روغتيا وزارت سره همکاری کوي. روغتيايي خدمتونو وړاندې کوونکي روزل کيږي ځو وکولای شی چې د کانګو د اخته کسان په آسانۍ سره تشخيص او درملنه يې وکړي او همدا راز پدې برخه کې روغتيايي پيغامونه په سمه توګه نشر او خپاره يې کړي. مونږ د عامو وکړو څخه غواړو چې ډيره پاملرنه ولري کله چې لوی اختر د دوستانو او خپلوانو سره لمانځي ، دخپل ځان او کورنۍ له دې ناروغی د اخته کيدو څخه وساتي.

د خوراک او کرهنې سازمان استازي ښاغلي تومو شيچيری وويل: د خوراک او کرهنې سازمان ددغه وقايوي نوښت څخه ملاتړ کوي. سربيره پردې د هغو وکړو پوهاوي بايد لوړ شی کوم چې زياتره د ځارويو سره سر او کار لري. د نړۍ په کچه ۷۵ سلنه د انتاني ناروغی چې په تيرو ۱۰ کلونو کې خلک يې اغيزمن او متاثره کړي، د ځارويو د اصلی سرچينې او يا هم د هغوی د محصولاتو له امله رامنځته شوی دی.

دعامي روغتيا وزارت د لازياتو فعاليتونو په باب د معلوماتو د ترلاسه کولو په خاطر دغه بريښنايي پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.moph.gov.af
د لازياتو معلوماتو لپاره د عامې روغتيا وزارت د عامه اړيکو دفتر مسئول محمد اسمعيل "کاووسی" سره اړيکه ونيسئ
مبايل: 75 99 99 704 (0) 93+
دفترشميره: 74 13 230 020
اميل: mi_kawusi@yahoo.com